د سپه ملګري او بد ملګري مثال د مشکو والا او د پخ (آهنګر دی)،

ابو موسى رضي الله عنه له پېغمبر صلى الله عليه وسلم څخه روايت کوي چې فرمايي: "د سپه ملګري او بد ملګري مثال د مشکو والا او د پخ (آهنګر دی)، نو کوم چې د مشکو والا دی: يا خو به درته مشک ډالۍ کړي، يا به يې ترې واخلې او يا خو به ترې ښايسته بوی درشي، او پخ چې دی؛ نو يا خو به دې کالي وسوځي، او يا به ترې بد بوی درشي».

[صحيح دی] [متفق عليه دی]

رسول الله صلى الله عليه وسلم د دوه ډوله خلکو مثال بيان کړ: لومړی ډول: نېک او صالح ملګری چې د الله لورې او هغه څه ته دې لارښوونه کوي چې هغه پرې خوشحاليږي، او په اطاعت کې دې مرسته کوي. نو د ده مثال لکه د مشکو پلورونکي دی چې يا خو به يې درکړي، يا به يې ترې واخلې او يا به ترې ښايسته بوی درشي. او دويم ډول: بد ملګری؛ چې د الله له لارې دې منع کوي او د ګناهونو په کولو کې دې مرسته کوي او بد کارونه به ترې وينې او د هغه په څېر خلکو د ملګرتيا او ناستې پاستې له امله به د خلکو مخ در اوړي. نو د ده مثال د هغه پخ (آهنګر) په څېر دی چې اور پوکوي؛ نو يا خو به د اور سپرغۍ دروالوځوي او کالي به دې وسوځوي، او يا خو به ورته د نږدې والي له امله بد بوی ومومي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/3127